چمتو والي کچه

# ګلی او سردار



**لیکوال:** سنجیو جیسوال ’سنجی‘
**انځورګر:** اجیت ناراین

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Bunty and Bubbly (Pashto), Published by Pratham Books under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



ګلۍ له پتنګانو سره لوبې کولو سره مینه لري...




...او له مارغانو سره هم



هغه له کاغذي کښتیو سره هم لوبې کول خوښوي.



هغه د شګو کلاګانې جوړول هم خوښوي.



کله چې ګلۍ کور ته ستنه شي، مورجانه يې ورته وايي چې ځان پاک کړه.

خو هغه يې نه مني.



هغه په چیغو وايي:

”زما صابون نه خوښیږي!“.



يوه شپه هغه يو خوبويني

مکروبونو د هغې کلا محاصره کړې ده او پر هغې باندې بريد کوي.




مکروبونه د ګلۍ په تعقیب کې دي.
هغه د خپل ژوند ژغورلو لپاره منډه کوي او چیغې وهي، **” مرسته وکړئ... مرسته وکړئ!“**




ناڅاپه، صابون پاچا، مرجان، راښکاره کېږي.

هغه وايي، ”ګلۍ! مه ډارېږه“. ”ورځئ! په مېکروبونو برید وکړئ!“

صابون پاچا خپل د ځګونو لښکر ته امر وکړ.



د ځېرونو لښکر مېکروبونو پسې شو او مېکروبونه يې له منځه يوړل.



اوس، ګلۍ صابون کارول خوښوي، او همدارنګه خپل غاښونه هم برس کوي او ځان ښه پاک ساتي.

# لاربښودونکې پوښتنې

1. ګلی کوم کارونه کول خوښوي؟
2. ګلي کوم کارونه کول نه خوښوي؟
3. تاسو څه شی خوښوئ او څه شی نه خوښوئ؟ ولې؟
4. ولې د خپلو غاښونو برس کول او پاک اوسېدل یو ښه عادت دی؟
5. تاسو څو ځله لاسونه پرېمينځئ؟ تاسو خپل لاسونه څنګه پرېمينځئ؟